مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دوکتور محمد عثمان تره کی ۲۰۲۶ / ۰۸ / ۲۳

# د افغانستان د ښځو د زړورتیا درناوی

د فرانسي مشهوره ورځپاڼه **لوموند**، چې د اروپايي ټولنې د ډيپلوماسی د استقامت تاکلو په برخه کې رول لري، د اګست د ۱۹مې په ګڼه کې د خپلې خبريالې « انيک کوژان » افغانستان کې د ښځو او نجونو د وضعيت په اړه د اروپا د ډيپلوماسی مشرانو په آدرس يو هيښونکي راپور خپور کړی دی.
خبرياله په کابل کې د څو مياشتو د اوسيدنې پر مهال له ګڼو ښځو سره مرکې کړې دي او خپل راپور يې په افغانستان کې د ښځو د وضعيت او د دغه هيواد د حالاتو په اړه د طالبانو د واکمنی د ينځمې کليزې په مناسبت خپور کړی دی.
**د راپور ځينې ټکي له موجودو واقعيتونو سره سمون نه خوري. خو له دې سره سره، د اروپا او د افريقايي رانکوفون هيوادونو د ډيپلوماتانو د ذهنيت په جوړولو کې ډېر اغيزمن ثابتيداې شي.**
راپور په اروپا کې د طالبانو د سياست د ځينو برخو پر ضد د رسنيز کمپاين او تبليغاتي فعاليت يوه بېلګه ده چې د هغوی پر وړاندې عامه ذهنيت ته ځانګړی منفي لوری ورکوي.
**د همدې واقعيتونو په پام کې نيولو سره، طالبان بايد په نږدې راتلونکې کې له بهرنيو هيوادونو څخه د خپل حکومت د رسمي پيژندنې تمه ونه لري.**
**ع، تره کی**
**لاندې د « انيک کوژان » د راپور ژباړه :**

له هغې ورځې چې پنځه کاله وړاندې طالبانو د زور له لارې په افغانستان کې بېرته واک ترلاسه کړ، او له هغه راهيسې په هيواد کې د ښځو د له منځه وړلو بهير له بې ساري تاوتريخوالي سره مل دی؛ نو پر نړيواله صحنه د دغه رژيم د پيل شوې عاديکېدنې بهير او رسميت پيږندنه له ستونزی سره مخ دي.
اروپا بايد خپلو اصولو ته درناوی او په ګډه اقدام وکړي. که نه په دې سيمه کې به له اخلاقي سقوط او جيوپوليتيک زوال سره مخ شي.
په خپلې فرقه يي ليونتوب او حيرانوونکي وحشت کې ډوب د افغانستان طالباني رژيم، د انسانيت د نيمايي برخې د انکار او له ټولنيز ژوند څخه د هغې د حذفولو پروژه په يوه تريخ او مرګوني چوپتيا په فضأ کې عملي کوي.
نړيواله ټولنه لا هم د هغې مناسبې اصطلاح په موندلو کې سرګردانه ده چې د منځنی اسيا د دغه هيواد د ښځو پر وړاندې روان وحشت په سمه توګه بيان کړي : «جنسيتي اپارتايد»، «ځورونه»، «جينوسايد» يا د ښځو له منځه وړل... داسي اصطلاحات دی چې د تاريخ له دې بې‌ساري پديدې سره د مقابلې او د هغو جنايتکارو عاملانو د معرفی لپاره کارول کيږي. دلته موږ د کلمو ګډوډې، او په عمل کې د قربانيانو پرېښودل په پروسه کې قرار لرو.
طالبانو د اګست په ۱۵مه په کابل کې د خپل زور له لارې واک ته د بېرته ستنېدو پنځمه کليزه په ننداړو او مراسمو ولمانځله. يوازې نارينه وو د بېرته ترلاسه شوي «خپلواکی» بيرغونه پورته کړل. له شلو کلونو لوېديځ اشغال وروسته، دغو جګړه مارو او سخت دريځو اسلامپالو مشرانو پرته له ډېرې ستونزې خپله ولکه پر ټولنې ټينګه کړه.
هغه ژمنې چې امريکايانو او اروپايانو له ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۲۱ پورې افغاني ټولنې ته ورکړې وې ( د نجونې زدهکړې ، د هغوی قانوني ملاتړې او دا چې هېڅکله به هيواد بېرته د پخواني او لرغوني نارينه واکی نظام ته نه ستنيږي ) ټولې پرېښودل شوی.
داسی مالوميږي چې طالبان له دې وروسته چې ښځې له خپلو کورونو څخه پر وتلو، زده کړو، کار او سندرو ويلو منع کړې، پر اوږد مهاله پلان تکيه کوي. له تېرو پنځو کلونو راهيسې د ويرې حاکمه فضأ خلک دې ته اړ کړي چې نوي مقررات ومني. اوس په ټولنه کې دغه مقررات رېښې زغلوي او بنسټيز کيږي. نارينه له دې وضعيت سره عادي کيږي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د مي مياشتې **۱۸مه فرمان** د وړو نجونو ودونه ته اجازه ورکوي. د جنورۍ **۱۲مه فرمان** ټول ژوندي موجودات په يوه سلسله مراتبي کې تنظيموي او د مېړونو تاوتريخوالی قانوني کوي. ښځې د دې سلسلې په تر ټولو ټيټه برخه کې، د مريانو ترڅنګ، ځای پر ځای کوي.
په دې کليوالي هېواد کې اوس وزې تر افغانو ښځو ښه چلند ترلاسه کوي. هيله ورځ تر بلې کمزورې کېږي. زامن له خپلو ميندو او خويندو سره بد چلند کوي. مېړونه په قانوني توګه ښځې وهي. لومړني ښوونځي د مدرسو لپاره ځای پرېږدي. ماشومان ځان وژني کوي. په زندانونو کې بندي ښځې شکنجه او جنسي تېري پرې کېږي. هغه ښځې چې په عامه او دولتي برخو کې يې دندې او مقامونه درلودل، وژل شوې او جسدونه يې په سړکونو کې پرېښودل شوي دي.
پوښتنه دا ده چې د اوسني وضعيت په پام کې نيولو سره څنګه نړيوالې صحنې راتک ته د طالبانو د رژيم د پيل شوې عاديکېدنې بهير سره چلند وکړو ؟



له بيجينګ څخه تر مسکو، له ډهلي څخه تر واشنګټن پورې، ډيپلوماتيکې لارې بېرته پرانيستل کېږي. د قدرت غوښتنې او د کانونو د امتياز د ترلاسه کولو لېوالتياوې په هغه خاوره کې بيا راژوندۍ کېږي چې تل د امپراتوريو د سياليو او جګړو ډګر پاتې شوې ده.
د جون په مياشت کې د طالبانو يوه لومړنۍ پلاوي ته په بروکسل کې د کډوالۍ د بهيرونو د کنټرول په اړه د خبرو لپاره هرکلی ووېل شو. د اروپا کمېسيون دا سپکاوی کوونکې ليدنه «تخنيکي غونډه» وبلله، په داسې حال کې چې کابل دا ليدنه «تاريخي» بللې وه.
**ميليونه** وګړي يې بشري مرستو ته اړتيا لري.
افغانان هيله لري چې د ۲۰۲۱ کال راهيسې کنګل شوې خپلې مالي زيرمې بېرته ترلاسه کړي او نړيوال بنديزونه پرې نرم شي. خو نړې د طالبانو رژيم سره به د خپل **جنسيتي اپارتايد** له پروژې له مخې هېڅ ډول معامله ونه کړي.
اروپا په دې سيمه کې چی افغانستان موقعيت لري له **اخلاقي سقوط او جيوپوليټيک زوال** سره د مخامخ کېدو له خطر سره مخ ده. که اروپا غواړي بېرته په افغانستان کې خپل حضور او رول پياوړی کړي، نو له دې پرته بله لار نه لري چې خپلو اصولو ته وفاداره پاتې شي. په ګډه اقدام وکړي او د کوچنيو او سپکو معاملاتو له لارې د افغان ښځو ستره زړورتيا سپکه او سپکاوی نه کړي

« پای»



آرشيف: مطالب نشر شدۀ دوکتور محمد عثمان تره کی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولـئ